LEED Social Sceince AcademicJournal

لیډ د ټولنيزو علومو علمي مجله

LSSAJ

# د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې د همای څېړنه

وحيدالله اميري*[1]

پښتو څانګه، د ښوونې او روزنې پوهنځی، هلمند پوهنتون

د مسؤل ایمیل آدرس: amiri.786@yahoo.com

ترلاسه سوې: ۱۴۰۳/۰٦/۱۷ منل سوې:۱۴۰۳/۰٦/۲۲ خپره سوې: ۱۴۰۳/۰۹/۲۰ دثبت ګڼه: LSSAJ-1-1-05 مخونه (۷۲-۸۵)

## لنډيز

همای چې د يو هډوکي خوړونکي مرغه په توګه سره مشهور شوی دی. په ادبياتو کې يې د اساطيري اړخ له مخې شهرت مندلی دی، هغه په دې ډول کله، چې د همای سيوری پر هرچا پريوځي هغه نېکبخته کوي او تر پاچاهي يې رسوي. د مرغانو پېژندنې په علم کې د کرکس په کورنۍ پورې اړه لري. هما( هوميا، هوما، هوميه يا هومايا) په اوستاکې د نېکبخته په معنا سره راغلی. همدارنګه په اوستاکې د (وارغن مرغه) په نوم سره ياد شوی دی، چې فر د جمشيد له بدن څخه د مرغه په ډول سره جلا شوی دی. نوموړی مرغه چې هډوکي خوري او يو بې آزاره مرغه دی نو په دې اساس د شاعرانو د توجه وړ ګرځېدلی دی. د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې د دولسو شاعرانو په شعرونو کې نومړی مرغه د کتابتونې څېړنې، توضيحي او تشريحي ميتود په واسطه څېړل شوی دی. د پښتو ادب د منځنۍ دورې په تصوفي او غنايي شاعرۍ کې په بار بار د نوموړي مرغه استعاري او تشبيه يادونه شوې ده او د منځنۍ دورې شاعرانو د همای بېلابېلې ځانګړنې لکه د همای سخاوت، صبراو قناعت، بې آزاري، دولت او نېکمرغي د خپل ديد له مخې په خپلو شعرونو کې راوړې دي.

**کليدي کليمې:** همای، همای او فر، د همای سيوری، همای او عرفان.

## سريزه

افغانستان چې يو غرنی هېواد دی او په غرونو کې يې رنګارنګ مرغان پيداکيږي، چې د هغه له جملې څخه يو هم د همای مرغه دی چې ډېر کم پيدا کېږي او نوموړی مرغه څو مياشت مخکې د هېواد په شمالي ولايت پنجشير کې د ځايي اوسېدونکو له لورې نيول شوی او بيايې د چاپيريال ساتنې اداري ته تسليم کړ. نوموړی مرغه چې اساطيري هويت لري او پخوانيو خلکو به داسې انګرله کله، چې د همای سيوری د چا پرسر پريوځي نو هغه شخص شتمن کيږي يا پاچاهي ته رسيږي. د پښتو ادب د منځنۍ دورې په غنايي او عرفاني ادبياتو کې يې ډېره يادونه شوې ده. نوموړی مرغه د ځينو ځانګړنو لکه: صبر او قناعت، سيوری او بخت، تواضع او عاجزي له مخې ډېر شهرت مندلی دی او دا يو هډوکی خوړونکی مرغه دی. دا چې نوموړی اساطيري مرغه په

افغانستان کې لیدل کېږي او د پښتو ژبې شاعرانو یې په خپلو شعرونو کې په بار بار یادونه کړې نو ځکه مې هوډ وکړ ترڅو د نوموړي مرغه اساطیري او عرفاني ځانګړنې د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې وڅېړم. د پښتو ادب د منځنۍ دورې د دولسو مخکښو شاعرانو لکه: دولت لوانی، معزالله خان مومند، میرزاخان انصاري، خوشحال خان خټک، رحمان بابا، حمیدمومند، عبدالقادر خټک، اشرف خان هجري، کاظم خان شیدا ، حنان بارکزی او پیرمحمد کاکړ په دیوانونو او کلیاتو کې د همای مرغه څېړنه وکړه. په غنایي ادب کې شاعرانو د همای بېلابېلې ځانګړنې لکه د همای سیوری او بخت، د همای صبر او قناعت، د همای عاجزي او بې آزاري په تشبیهي ډول سره کارولي دي او په عرفاني شاعرۍ کې شاعرانو د همای مرغه په بېلابېلو استعاري سېمبولیکو معناوو لکه د حق ذات، پیر کامل او د مرشد په معنی وو سره کارولی دی.

## د څېړنې کړنلاره

نوموړې مقاله چې (د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې د همای څېړنه) تر سرلیک لاندې بحث ورباندې کوو د څېړنې په کتابتوني ډول ، د تشریحي او کمپوزیټ میتود په واسطه سره معلومات راټول او تحلیل شوي دي. د معلوماتو په راټولولو کې له معتبرو کتابونو او د پښتو ادب د منځنۍ دورې د ځینو مشهورو شاعرانو له دیوانونو څخه پکې استفاده شوې ده.

### د څېړنې مخینه

د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې د همای په اړه په پښتو ژبه کې تر اوسه کوم بشپړ اثر یا هم کومه څېړنېزه مقاله نه ده لیکل شوې. د همای په اړوند د فیصل فاران په یو اثر ( اساطیري تلمیحات په پښتو شاعرۍ کې) لنډ معلومات راغلي او ددې ترڅنګ پوهنمل محمود نظري په خپل یو اثر (د نړۍ افسانوي الوتونکي) کې لنډ معلومات راغلي دي نو ځکه لازمه وبرېښېده تر څو د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې د همای مرغه څېړنه وکړو ترڅو معلومه شي چې د منځنۍ دورې شاعرانو نوموړی مرغه د کومو ځانګړنو او هدفونو لپاره په خپلو شعرونو کې کارولی دی. خو په فارسي ادب کې د نوموړي مرغه په اړوند ډېرې او بشپړې څېړنې شوې دي.

### د څېړنې ارزښت

همای چې یو اساطیري مرغه دی او د پښتو ادب د منځنۍ دورې شاعرانو یې په خپلو شعرونو کې ډېره یادونه کړې ده. په پښتو ادب کې تر اوسه پورې د نوموړي مرغه په اړوند کومه لیکنه او څېړنه نه ده تر سره شوې که وي هم په نشت حساب ده. په دې څېړنه کې به د همای په اړوند بشپړ معلومات د پښتو ادب د منځنۍ دورې له شعري نمونو سره وړاندې شي.

### د څېړنې موخې

ددې څېړنې اصلي موخه د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې د همای مرغه معنایزه څېړنه ده .

په دې څېړنه کې به د همای مرغه اساطيري او عرفاني هويت څرګند شي او د پښتو ادب د منځنۍ دورې د شعري نمونو سره به راوړل شي.

### د څېړنې پوښتنې

د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې د همای مرغه څخه يادونه شوې؟

د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې همای په عرفاني ادب کې په کومه معناسره کارول شوی دی؟

د پښتوادب په منځنۍ دوره کې د همای له کومو ځانګړنو څخه يادونه شوې ده؟

## همای(Gypaetus barbatu)



لومړی شکل: د همای انځور

د مرغانو پېژندنې په کتابونو کې Gypaetus barbatus ته همای ويل کېږي او ددې کلمو د اشتقاق په اړوند داسې ليکي : کلمه د يوناني کلمې Gyps چې معنا يې کرکس ده مشتق شوې ده او aetus کلمه د عقاب لپاره ده Barbatus . لاتيني کلمه د« ږيرې لرونکي» لپاره ده چې يوه اندازه ښکې يې د مښوکې لاندې د ږيرې په بڼه څرګندېږي. (شفق، ۱۳۹۱،ص ۵۸).

په فرهنګ عميد کې د همای په اړوند داسې وايي «humak»: همای يو ښه او مبارک مرغه دی، نوموړی مرغه د شاهين په څېر غټ بدن لري چې خوراک يې هډوکي دي او پخوانيو خلکو داسې فکر کاوه چې سيوری يې د چا پر سر ولوېږي نيکبخته او بريمن کېږي (عميد، ۱۳۸۹، ص ۱۲۰۲).

په فرهنګ اساطير وراه های در ادبيات فارسي کې ياحيقي د همای په اړوند داسې ليکي:« هما د سيمرغ په څېر يو افسانوي مرغه دی چې د ښه بخت او سعادت قاصد ګڼل کېږي په همدې خاطر په « مرغ سعادت» باندې مشهور دی. پخوانې په دې عقيده وو چې دا يو بې آزاره مرغه دی او خوراک يې هډوکي دي او هرکله چې د يو چا پرسر کښېني هغه پاچاهی ته رسېږي (ياحقی، ۱۳۹۱، ص ۸۸۸). په عجايب المخلوقات کې د هما په اړه داسې ليکي: «هما د صاعون (صافون) په ولايت

کې یو ښه او مبارک مرغه وو چې هر کله به را څرګند شو په ټول ولایت به یې دورې کولې او څه وخت به چې د چا پرسر کښیناست هغه کال به ډېره آبادي وه او هغه شخص به یې ملک کړ او بادشاهي به یې ورکوله ( محمدبن محمود، ۱۳۸۲، ص ۵۱٦).

په فرهنګ معین کې د همای په اړه داسې لیکي: «د هما لغت د مبارک په معنا دی. د ښکاري مرغانو څخه یو مرغه دی چې بدن یې نسبتاً قوی،پاسنی او د شاه بڼکې یې خاورین رنګ لري چې سپینوالي ته مایلې دي. د سینې رنګ یې زیړ او د نکریزو رنګ ته مایل دی. پرسر یې څو جګې بڼکې دي د هما وزرونه پلن، اوږده او کونج لرونکي دي د مښوکې لاندې یې ځینې بڼکې ډېرې اوږدې شوې چې یوه ځانګړې ښکلا یې ور په برخه کړې ده. همای چې د ښکاري مرغانو په ډله کې دی خوراک یې یواځې هډوکي دي. همای له ځمکې څخه هډوکي پورته کوي او پر لویو ډبرو یې را غورځوي چې ټوټې ټوټې شي بیا یې خوري. پخوانیو خلکو نوموړی مرغه د سعادت او نیکمرغۍ سبب ګاڼه او داسې یې انګیرله، چې د هرچا پرسر یې سیوری پریوځي هغه کس نیکمرغه کېږي (معین، ۱۳۸۴، ص ۲۱۰۹). د هما مانا مبارکه (فرخنده ده، یو واورا( لاش خوړنکی) الوتونکی دی چې یو لوی شاهین ته ورته دی. د هما د بدن ځانګړی جوړښت دا له نورو لاش خوړو څخه جلا کوي. د هما وزرونه پلن، اوږده او کونج لرونکي دي، اوږده تور رنګه لوزي ډوله لکۍ لري، شا، وزرونه او لکۍ یې تور ایرې ډوله او سر یې ټوله نخودي، د سترګو څلور خواوې او مښوکه یې تور رنګ لري د مښوکې لاندې څو تاره تور وېښته لکه ږیره لري، نس یې نارنجي ژیړ او ټټر یې نارنجي رنګ لري چې د تورو وزرو سره یې تضاد لري. دا الوتونکی تور سر او غاړه لري.

د هما د بدن اوږدوالی یو متر ته رسیږي. عموماً په غرنیو سیمو کې ژوند کوي او په سختو ګړنګونو کې ځانته ځاله جوړوي اوس د (لاروبمو) په ملي پارک او د (دنا) په سیمو کې ساتل کېږي. د پخوانیو خلکو په اند دا الوتونکی د انسان د ښه بخت او سعادت لامل ګرځي د هغو په اند هما چې د ګوربت (عقاب) د کورنۍ غړی دی، چې سیوری یې د هرچا پر سر ولویږي هغه نېکمرغه کیږي. د فردوسي په شاهنامه کې د یو بیرغ (درفش) نه یادونه شوې ده چې هما پرې انځور شوی وو او هغه یې د بیرغونو مور بللی او پر لوړو ځایو به ځړول کېده چې ټول خلک هغه ووینې.

د هخامنشیانو په پېر کې هم د هما بیرغ وجود درلود او هم پر شاهي چتر د هما انځور ایستل شوی وو.

په زړو عامیانه افسانو کې راغلي دي، چې کله به یو امیر یا پاچا مړ شو او کوم وارث به یې نه درلود د ځای ناستې د ټاکلو په موخه به په یو میدان کې سره راټول شول د هما الوتونکی به یې خوشې کړ، هغه چې به د هر چا پر سر کېناست هغه به امیر یا پاچا شو. هما لکه ققنوس په مصرکې په آریایي افسانو کې د کرامت خاوند دی. هما چې د سعادت الوتونکی دی په زرتشتي افسانو کې د

(ساینا) یا (سیمرغ) په نامه یاد شوی دی. صادق هدایت یو بل ځېړونکی د هما په هکله لیکي: ځیني وایي هغه تپوس (کرکس) یو مردار خور کرکس دئ او هغه ته د سعادت الوتونکی هم ویل شوی دئ او وایي د هغه سیوری چې د هرچا پر سر ولویږي هغه پاچا یا شتمن کیږي او د همایون لغت هم د هما نه اخیستل شوی دئ، چې همدا مانا لري او دا چې خلک د مننې په وخت کې یو بل ته وایي:«خدای دې ستا سیوری زما له سره نه کموي» اشاره همدې ته ده (نظري، ۱۳۸۸، ص ۲۵).

## همای او فر

آریایان چې کله په آریانا ویجه کې میشت شول، نو دا سیمه د آریایانو د پخوانیو باورونو د پراختیا اصلي ځای وګرځېده. نو په دې اساس دا سیمه د یو ځانګړي تقدس څخه برخمنه شوه. په دې سیمه کې د بېلا بېلو خدایانو پیدایښت او د خدایانو څخه د ګټې ترلاسه کولو او له آفتونو څخه د خلاصون لپاره یې د هغه نمانځنه کوله، چې دا د آریایانو د باورونو له نمونې څخه وو. د طبیعت هر عنصر یو خدای درلود، چې همېشه به د ځانګړو اصولو له مخې ددې خدای نمانځنه کیده. دا ستاینه او نمانځنه تر دې حده رسېدله چې هغه عناصر به د یو قوم د سېمبول په توګه د قومونو پر نښانو او بیرغونو نقش کېدل .

له هغه باورنو څخه پرته چې له مادي طبیعت څخه یې سرچینه اخیسته او مادي رنګ او بوی یې درلود، ځیني داسې باورونه او عقیدې وې چې له طبیعت څخه یې لوړې ریښې لرلې او د آریایانو د معنوي روح سره یې اړیکه لرله. د آریایانو د معنوي باورونو له جملې څخه تر ټولو لوړ د ( خوَرِنَه (Khvarenaباور او عقیده وه چې د آریایانو له لومړي هجرت څخه مخکې یې هم پرې باور درلود. خوَرِنَه یا فر، یوه ځانګړې خدایی ورکړه وه چې یو شخص به کولای شول ددې ځلا او ورکړې په رڼا کې تر سالارۍ، صدارت او حتی تر سلطنته ځان ورسوي او د نورو خلکو لپاره د هوساینې او د عدالت د راتلو سبب شي. د اوستا د لیکنو په اساس هر څوک چې د (اَشَونَان) او (اهورائیان) څخه د فر یا ځانګړې ځلا د ترلاسه کولو وړ وګرځي، په حقیقت کې داسې یوې مرحلې ته رسیدلی، چې کولای شي له خپلو نور هم نوعو څخه ځان ممتاز کړي او ترڅو چې په دروغو، پټنو...کې راګیر نه شي دا قوت یې مرسته کوي (اسماعیل لو، ص ۸۱).

ځیني شاهان لکه هوشنګ، جمشېد، ګرشاسپ، کی کاووس، کیخسرو او ځیني پهلوانان لکه توس او جاماسپ له دې فر څخه برخمن وو. همدارنګه په اوستا کې راغلي کله چې جمشید په بدو خبرو او دروغو ویلو شروع وکړه فر په ښکاره ډول سره د هغه له بدن څخه د مرغه په شکل جلا شو. د لومړي ځل لپاره بګسست فر، د جمشید فر، د ویونګهان (د جمشید پلار) د زوی جم فر د وارغن مرغه په څېر جلا شو. یاحقي پر دې باوري دی چې له جمشید څخه وتلی فر د وارغن مرغه

په شکل سره جلاشوی، نوموړی یو ښکاري مرغه دی چې د شاهین له جنس څخه دی. په اوستا کې د وارغن مرغه ډېرې ستاینې راغلې دي. په اوستا کې د هومیا (hu.maya) او هومایا-hu) mâyâ)کلمې د ښه او مبارك په معنا سره ډېرې کارول شوې دي . د بهرام یشت په (۳۸-۳۵) بند کې «د غټو وزرون لرونکی» او «د مرغانو پاچا» یاد شوی دی. د دې ترڅنګ د وارغن مرغه ښکه د دښمن د له منځه وړلو وړتیا هم لري. که یو څوك ددې مرغه ښکه یا هډوکی له ځان سره ولري، په هیڅ ځای کې به ماتې ونه خوري ( شفق، ۱۳۹۱، ص ٦۱).

په فارسي ادبیاتو کې همای د فر مظهر ګڼل کېږي او فر یې داسې تعریف کړی دی:« فر، فره، خره نوموړی لغت په پهلوي کې xvarreh په زند کې xvareh او په فارسي کې خره او خوره دی. نوموړي کلمه په لرغونې فارسي کې farna فرنه راغلي او په فارسي کې فر، فره شوې ده او د فرخ، فرخنده، فرخان او فرهي لغتونه له همدې ریښې څخه دي (شفق، ۱۳۹۱، ص ٦۴). خو د فر لغوي معنا هغه رڼا ده چې د یوچا پر زړه پریوځې هغه له نورو خلکو څخه بهتره کوي یعنې فر یو ماورالطبیعه ځانګړنه ده چې په اوستا کې د همای مرغه ته ورکړل شوی او د همای مرغه ته یې اساطیري هویت ورکړی دی. د فر کلمه د همای سره یوځای په ادبیاتو کې ډېره کارول شوې چې فارسي ادبیاتو کې یې زیاتې نمونې وینو لکه فردوسي چې په شاهنامه کې وایي :

همی بر سرش داشت سایه ز فر
همای سپهرش بگسترد پر

(بهبودی، ۱۴۰۱، ص ۲۰۰)

فرخي سیستاني د همای د فر په اړه داسې وایي:

سایه او بر همای افتاد روزی در شکار
زان سبب بر سایه پر همای افتاد فر

(بهبودی، ۱۴۰۱، ص ۲۰۱ )

خاقانی د همای د فر په اړه داسې یادونه کوي:

تا شهباز بیضه شاهی گرفته مرگ
تا فرخی به فر همای اندر آمده

(بهبودی، ۱۴۰۱، ص ۲۰۲)

د پښتو ادب وتلې څېره عبدالحمید مومند د همای د فر په اړه داسې وایي:

ما ته پېښه شوه یاري د یار له خطه
که بخښي چاته دولت پَر د همای

(حمید مومند، ۱۳۸۳، ص ۲٦۰)

د پښتو ادبیاتو په کلاسیکه دوره کې زیاتره شاعرانو د همای مرغه په خپلو اشعارو کې په بېلابېلو مفاهیمو سره کارولی دی چې موږ به یې په دې څېړنه کې په هر اړخیز ډول سره معلومات وړاندې کړو.

## همای په عرفاني ادبیاتو کې

د اسطورې اساسي ځانګړنه رمز پیداکول دي. څه وخت چې واقعي عناصر د اسطورې په ډول سره راځي رمزي جنبه پیداکوي. رمز د اسطورې او عرفان د تماس نقطه ده، ځکه چې د عرفان ژبه رمزي ژبه ده. عرفان د عرفاني تجربو د بیان لپاره له سېمبولونو او رمزونو څخه ګټه اخلي، هغه د سېمبول او رمز څخه په ګټه اخیستنه محسوساتو ته ذهني او عقلي رنګ ورکوي. رمز د دیني او عرفاني متونو او په ټوله کې د دین او عرفان ژبه جوړوي. دا چې د ټولنیز ژوند په چاپېریال کې د طبیعت او عناصرو په ډول هر څه پیداکیږي، دا د هغه حقیقت او مطلق وجود څرګندونه او د الهي صفاتو او اسماو تجلا او مظهر دی؛ په دې اساس له کیهاني رمزو څخه نیولې تر بوټو، حیواناتو او مرغانو پورې په عرفاني ژبه کې د سېمبول په ډول استعمالیږي. په داسې حال کې عرفان له تاریخي، حماسي او اساطیري عناصرو څخه ګټه اخلي. د همای مرغه ځینې وخت د حق د لایتناهي ذات له پاره د سېمبول په ډول سره کارول کېږي ( طارمی، ۱۴۰۰، ص ۲۸۰).

په دې اړوند د پښتو ادب د منځنۍ دورې تصوفي شاعر دولت لواڼی داسې وایي:

هادي ښه رهنمای دی
د توحید د باغ همای دی
پر هرچا چې سیوری وکه
دی پادشاه شي که ګدای دی

(لواڼی، ۱۳۵۳، ص ۲۲۷)

میرزاخان انصاري په خپلو اشعارو کې دحق ذات ته د همای کلمه په د سېمبول او رمز په ډول سره داسې راوړې ده:

د کامل تر قلم وورې
د همای د دولت سیورې
هغه زړه له غمه خلاص دی
چې پرې کښیناسته دا توری

(انصاري، ۱۳۵۴، ص ۲۱۱)

ځینې وخت په عرفاني ادبیاتو کې همای د یو نېک شخص یا پیرکامل له پاره د سېمبول په ډول سره کارېږي، چې په دې اړوند میرزاخان انصاري داسې وایي:

چې ډېوه د معرفت شوه باندې بله
د همای اصل یې ګوښی کړ له زاغه

(انصاري، ۱۳۵۴، ص ۱۶۲)

معزالله خان مومند هم د پیرکامل لپاره د همای کلمه د رمز او سېمبول په ډول سره داسې راوړې ده:
ورکه که سایه شي د همایی له دې جهانه
لاندې به د بوم تر سایه نه کا عاقل سر

(معزالله خان، ۱۳۹۱، ص ۳۹)

عبدالرحمن باب په خپلو اشعارو کې د همای یوه بله ځانګړنه چې هغه قناعت دی یاده کړې، همای چې یو بې آزاره مرغه دی او د نورو حیواناتو او مرغانو غوښې نه خوري یواځې خوراک یې هډوکي دي او پر هډوکو یې قناعت کړی دی نو رحمان بابا هم وایي چې عارف او صوفي باید داسې قانع او صبور وي لکه همای په دې اړه داسې وایي:
د همای په څېر طمعه کړه وچ هډوکي
لکه مچ طالب د شهدو شکر مه شه

(رحمان بابا، ۱۳۹۱، ص ۱۶۴)

بل ځای داسې وایي:
مرتبه به دې د مچ او د میږي شي
زړه په غوړو غوښو مه تړه همایه

(رحمان بابا، ۱۳۹۱، ص ۱۶۴)

## همای په غنایي ادبیاتو کې

په غنایي ادبیاتو کې د همای حضور د څو اړخونو له نظره د توجه وړ دی لکه: د همای صبر او قناعت، د همای تواضع، د همای سیوری، د همای بخت او سعادت، د همای بې ازاري او د همای طمعه د پښتو ادبیاتو د کلاسیکې دورې د دولس تنه مشهورو او مخکښو شاعرانو په دیوانونو کې څېړل شوي دي چې هره یوه برخه به یې له مثالونو سره واضح او روښانه شي.

### ۱ـ د همای سیوری

سیوری د همای له ډېرو مشهورو او کارېدونکو ځانګړنو څخه ګڼل کېږي ځکه چې پخوا داسې روایات وو کله چې د همای سیوری پر چا پرېوځي نو هغه شخص نیکمرغه کېږي او تر پاچاهي پورې رسېږي، نو ځکه شاعرانو په خپلو شعرونو کې د خپل دید له لوري په لاندې ډول سره راوړی دی:

خوشحال خان خټک په یو بیت کې خپلې معشوقې ته داسې وايي ترڅو چې ستا د زلفو سیوری وو زه بادشاه وم دلته یې معشوقې د زلفو سیوری د همای له سیوري سره تشبیه کړی دی لکه چې وايي:

چې یې سیوری په ما وه لکه بادشاه وم
همای وه ستا د تورو زلفو سیوری

(خوشحال خان، ۲۰۰۱، ص ۳۶۰)

بل ځای کې وايي:

مهر د خاصو د همای سیوری دی
په چا چې وشي دا سیوره کوره

(خوشحال خان، ۲۰۰۱، ص ۱۳۵)

د اساطيري رواياتو په اساس کله چې د همای سیوری د یو چا پر سر پرېوځي نو هغه پاچا کوي نو عبدالقادر خټک دې موضوع ته په کتو سره همای ته وايي چې د هر چا پرسر سیوری مه کوه داسې نه چې یو نااهل سړی پاچا کړې په دې اړوند داسې وايي:

چرې نه عزیز ذلیل، ذلیل عزیز کا
په نا اهلو سیوری مه کوه همایه

(عبدالقادر، ۲۰۰، ص ۱۳۳)

اشرف خان هجري بیا وايي چې نور خلک د همای د سیوري په طمع دی خو زه د یار د در د خاور غوښتنه کوم لکه چې وايي:

زه د یار د در د خاورو آرزو مندیم
نور عالم همه آرزو ظِل د همای کا

(هجری، ۲۰۰۱، ص ٦٢)

کامګار خټک بیا داسې وايي:

په معنی ده عاشقي د هما سیوری
په تاثير یې شي شریف سړی وضیع

(کامګار،۱۳۹۳، ص ۱۳۵)

### ۲ـ د همای صبر او قناعت

صبر او قناعت د همای هغه مهمه ځانګړنه ده چې همای ته یې پر نورو مرغانو لوړ مقام ورکړی دی د کلاسیکې دورې شاعرانو هم د صبر او قناعت لپاره همای د رمز په توګه کارولی دی په دې اړوند عبدالحمید مومند وايي که چېرته قناعت وکړې لکه څنګه چې همای په هډوکي قناعت

کړی، پر دې قناعت سره د همای سیوری خلك پادشاهي ته رسوي نو په تا پسې به هم پادشاهي گرځي لکه چې وایي:

بادشاهي به دې په سیوري پسې گرځي
که قانع په استخوان لکه هما یې

(حمیدمومند، ۱۳۸۳، ص ۳۱۸)

عبدالقادر ختټك وایي که چېرته قناعت وکړې نور د همای د سیوري پروا مه کومه ځکه که قناعت دې وکړ نور خپله همای یې لکه چې وایي:

د همای د سیوري څه پروا لرینه
چې قانع په خپل قسمت شه خود همای دی

(عبدالقادر ختټك، ۲۰۰۲، ص ۲۰۵)

عبدالرحمن بابا وایي چې که د شهدو او شکرو طمعه کوې ستا مقام به هم لکه د مچ بې ارزښته وي، که طامع نه وې په وچ هډوکي دې صبر وکړ نو ستا مقام به هم لکه د همای ډېر لوړ وي هر سړی به دې د سیوري غوښتونکی وي لکه چې وایي:

د همای په څېر طمعه کړه وچ هډوکي
لکه مچ طالب د شهدو شکر مه شه

(رحمان بابا، ۱۳۹۱، ص ۱٦۴)

خوشحال ختټك وایي چې طمعه او حرص مه کوی ځکه چې طمعه سړی زلیل کوي ، لویه شتمني صبر او قناعت دی همای چې د ښکاریانو په دام کې نه نښلي راز یې دا دی چې طمع نه کوي بلکې په وچ هډوکي یې قناعت کړی دی.

واوره دوه پنده ځما فرزنده
طمعه حرص لري خواري څرگنده
دولت د صبر د قناعت دی
همای چې خلاص دی له هره بنده

(خوشحال خان، ۲۰۰۱، ص ۱۲۵)

کاظم خان شیدا بیا د همای د قناعت په اړوند داسې وایي:

له سایې سره یې نه وي شیدا سم د شهباز اصل
چې قانع لکه همای شي ددې خوان په لقمه سیوری

(شیدا، ۱۳۹۷، ص ۱۱٦)

پیرمحمد کاکړ وايي زه تر همای هم لوړ نظر لرم او د کرگس په څېر نه یمه چې هرې مردارې ته مې طمعه وي لکه چې وايي:

تر همای بلند نظریم که باور کړې
کرگس نه یم چې جیفه ته هوا دار یم

(کاکړ، ۱۳۹۸، ص ۹)

**۳ـ د همای تواضع**

تواضع او عاجزي د همای له هغه ځانګړنو څخه بلل کېږي چې له نورو مرغانو څخه یې مقام لوړ کړی دی د کلاسیکې دورې شاعرانو هم په خپلو شعرونو کې د همای دا ځانګړنه په بیلابېلو ډولونو سره راوړې ده چې په دې اړوند میرزاخان انصاري داسې وايي:

دا همای له خپله خویه قیمتي دی
د آزار تعلیم به څه اخلي له بازه

( انصاري، ۱۳۵۴، ص ۱۴۳ )

عبدالحمید مومند وايي چې سرفرازي او کامیابي په تواضع او عاجزۍ کې ده د همای مقام چې لوړ دی هغه ځکه چې په هډوکو پسې ښکته راځي لکه چې وايي.

طلب وه سرفرازي په سر کوزۍ
راکوزېږي په هډوکي همای ښکته

(حمیدمومند، ۱۳۸۳، ص ۱۹٦)

عبدالقادر ختک وايي:

بندګي په پیرۍ نه ده په ښه خوی ده
بوم به کله په وزرو ځان همای کا

(عبدالقادر ختک، ۲۰۰۲، ص ۲۸)

حنان بارکزی وایي:

د دولت اسباب فلک و ناکس ورکه
همای ګوره چې پر وچ هډوکي ورسي

( بارکزی، ۱۳۸۸، ص ۱٦۷)

**۴ـ د همای او سعادت**

بخت او سعادت هم د همای له مشهورو ځانګړنو څخه بلل کیږي ځکه پخوانیو خلکو داسې فکر کاوه چې کله همای پر چا سیوری وکړي هغه شخص نیکمرغه کېږي، چې په دې اړوند د منځنۍ دورې شاعرانو په بیلابېلو ډولونو سره د همای سعادت او بخت ته اشاره کړې ده په دې

اړوند خوشحال خان وايي پر هر چا چې د همای سیورې وشي نو د هر لوري څخه دولت او دنیا ورته راځي لکه چې وايي:

په چا چې وشي د همای سیوره
دولت ور درومي له هره لوره

(خوشحال خان، ۲۰۰۱، ص ۱۳۵)

بل ځای کې بیا خوشحال خان داسې وايي:

بخت و دولت د سړي له ځایه وي
نه له هنره نه له همایه وي
هنر هاله راشي همای هاله راشي
چې باندې حکم په چا له خدایه وي

(خوشحال خان، ۲۰۰۱، ص ۲۱۱)

رحمان بابا وايي چې مال او دولت په همای پورې اړه نه لري د همای او د زاغ فرق نشته دا بخت دی، چې سړي ته دولت ورکوي لکه چې وايي :

دا خو بخت دی څوک یې سپین او څوک یې تور کړه
ګڼه عین لکه زاغ هسې همای دی

(رحمان بابا، ۱۳۹۱، ص ۱۶۹ )

معزالله خان مومند دنیا او دولت له همای سره تشبیه کړې، ځیني وخت یو څوک ډېر شتمن شي او کله بیا ډېر غریب شي نو دغه حالت یې له همای سره تشبیه کړی چې د همای سیورې چې کله پر چا پرېوځي نو نیکمرغه وي او چې سیورې ترې لرې شي بیا یې هغه نیکمرغي هم له لاسه وتلې وي.

ګهي بوم شي چې دې بیخ و بنیاد ورک کا
ګهي سیورې د هما ده دا دنیا

(معزالله خان، ۱۳۹۱، ص ٦)

عبدالقادر ختټک بیا مینه د همای له سیوري سره تشبیه کړې ده چې په دې اړه داسې وايي:

زمکه تخت آسمان ئې تاج ستوري ګوهر شي
چې په سر ئې دا دمینې همای بال کا

(عبدالقادر ختټک، ۲۰۰۲، ص ۳۲)

## پایله

د پښتو ادب په منځنۍ دوره کې مې د زیاتو هغه شاعرانو دیوانونه او کلیات مطالعه کړل چې د منځنۍ دورې له سر لارو ښخه ګنل کیږي نوموړو شاعرانو په خپلو شعرونو کې د شعري قوت او هنریت په موخه د همای مرغه د بېلابېلو اساطیري او عرفاني ځانګړنو سره کارولی دی. ددې ترڅنګ د همای د سیوري ډېره یادونه پکې شوې ده چې کله د همای سیوری د یوچا پر سر پریوځي تر پاچاهي یې رسوي. د منځنۍ دورې تصوفي شاعرانو هم په خپلو شعرونو کې د همای مرغه یادونه کړې چې په تصوف او عرفان کې له همای ښخه مراد د حق ذات یا پیرکامل دی. نوموړو شاعرانو د همای مرغه په تشبیه ډول سره هم کارولی چې ځینې وخت یې د همای ځانګړنې لکه سیوری، صبر، بې آزاري او سعادت په تشبیه ډول سره کارولې دي.

## اخځلیکونه

1. اسماعیل لو، حسین. فر همای و روایت های اوستا. (مقاله). مجله زبان و ادبیات فارسی واحد خوی، پژوهش گاه علوم انسانی و مطالعات فرهنگی پرتال جامع علوم انسانی.
2. انصاري، میرزاخان. (۱۳۵۴). د میرزاخان انصاري دیوان. د حبیب الله رفیع په اهتمام: پښتو ټولنه، دولتي مطبعه.
3. بارکزی، میرزا حنان.(۱۳۸۸).د میرزا حنان بارکزي دیوان. د محمودهوتک په زیار:صحاف نشراتي مؤسسه، کوټه.
4. بهبودی، آسیه. (۱۴۰۱). سیر تحول معنا و کارکرد (همای) ازدوران اساطیری تا دوران مهاصر. سبک شناسی نظم ونثر فارسی، دوره ۱۵، شماره پیاپی ۷۷.
5. ختیك، خوشحال خان. (۲۰۰۱). ارمغان خوشحال. د سیدرسول رسا په زیار: یونورسیټي بوك ایجنسي خیبر بازار.
6. ختیك، عبدالقادر خان. (۲۰۰۲). د عبدالقادرخان خټک دیوان.د جهان زیب نیازي په زیار: پېښور اکاډمي، لاهور.
7. خټک، کامګار خان.(۱۳۹۳). د کامګار خان خټک دیوان. د میاولي شاه فقیرخیل په زیار:دانش خپرندویه ټولنه.
8. شفق، دوکتور اسماعیل. (۱۳۹۱). جستاری پیرامون «همای». (مقاله). متن شناسی ادب فارسی، دانشگاه اصفهان.
9. شیدا، کاظم خان.(۱۳۹۷ه ش). د کاظم خان شیدا دیوان.کابل: دانش خپرندوینه ټولنه.

10. طارمی، اصغر. (۱۴۰۰) پرنده گان اساطیری، سېمبولیسم عرفانی و محیط زیست با تکیه بر شعر عرفانی فارسی. (مقاله). مطالعات عرفانی، شماره سی و چهارم.
11. عبدالرحمن بابا.(۱۳۹۱ ). د رحمان بابا دیوان د محمد عارف غروال په اهتمام:صداقت خپرندویه ټولنه، کندهار.
12. عمید، حسن.(۱۳۸۹). فرهنگ عمید: انتشارات سکَه
13. کاکړ، پیرمحمد.(۱۳۹۸). د پیرمحمد کاکړ دیوان: صحاف نشراتي مؤسسه کوټه.
14. لواڼی، دولت. (۱۳۵۳). د دولت لواڼي دیوان. د عزیزالله او محمد عارف غروال په اهتمام: پښتو ټولنه، کابل.
15. محمدبن محمود بن احمدطوسی. (۱۳۸۲). عجایب المخلوقات و غرایب الموجودات: شرکت انتشارات علمی و فرهنگی.
16. معین، دکترمحمد. (۱۳۸۴). فرهنگ معین. جلد دوم: انتشارات اَرِنا.
17. مومند، عبدالحمید.(۱۳۸۳). د عبدالحمید مومند کلیات. د محمد آصف صمیم په زیار:دانش خپرندویه ټولنه.
18. مومند، معزالله خان.(۱۳۹۱). د معزالله خان مومند دیوان. دریم چاپ. د همیش خلیل په زیار: دانش خپرندویه ټولنه.
19. نظري، پوهنمل محمود. (۱۳۸۸). د نړۍ افسانوي الوتونکي: دانش خپرندویه ټولنه.
20. هجري، اشرف خان.(۲۰۰۱) . د اشرف خان هجري دیوان. د همیش خلیل په زیار: پېښور اکاډمي، لاهور.
21. یاحقی، دکترمحمد جعفر.(۱۳۹۱). فرهنگ اساطیر و داستان واره ها در ادبیات فارسی: مؤسسه فرهنگ معاصر.

# A study of Homa in the middle period of Pashto literature

Waheedullah Amiri *1
Department of Pashto Language and literature, Education Faculty, Helmand University
**Email:** amiri.786@yahoo.com

## Abstract

The Homa bird, recognized as a bone-eating species, has gained significant appreciation in literature due to its mythological importance. It is believed that when the shadow of the Homa falls on someone, it commit good fortune and raises them to kingship. In ornithology, the Homa is classified within the vulture family. In the Avesta, the bird is referred to as Homa (also known as Humaya, Huma, or Humya), symbolizing good luck. Additionally, in the Avesta, it is known as the Varghan Bird, representing the separation of Jamshed's divine glory in bird form. As a harmless, bone-eating bird, the Homa has drawn the attention of poets.

In the Middle Period of Pashto literature, this bird was explored through a library-based, descriptive, and interpretive approach in the works of twelve poets. In the mystical and lyrical poetry of this era, the Homa bird frequently appears as a metaphor and simile. Poets of the Middle Period emphasized various attributes of the Homa, such as its generosity, patience, contentment, harmlessness, prosperity, and good fortune, showcasing these qualities in their poetry from unique perspectives.

**Keywords:** Homa, Homa and divine glory, shadow of Homa, Homa and mysticism.

**Islamic Emirate of Afghanistan**

**Ministry of Higher Education**

**Helmand University**

# Leed Social Science Acdemic Journal

**Volume:1 Issue: 1 Year:2024**